**لیکونکی** : مسعود ودان ( Masud Wadan)

**منبع اودخپریدو نیټه** : ګلوبال ریسرچ «27-12-2018»

**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سید حسام «مل

---

# له افغانستان څخه د متحده ایالاتو دځواکونو وتل دطالبا نوسره پټ خبری اتری اوپه سیا سی افق کی بد لون

*US forces withdraw from Afghanistan , secret negotiation with the Taliban " Huge political change on the Horizon "*



له کا بل څخه د د سمبر د میا شت (27) نیټی کال (2018) دامریکایی ځواکونو له سوریی اوبیا وروسته له ا فغا نستا ن څخه ایستل په مینځنی ختیځ او ا فغا نستا ن کي دامریکی د متحده ایالاتو دګڼ شمیر متحد ینو د پا ره په ریښتینی بڼی سره حیرا نونکي اود با ور وړ نه وه . ګرچه بیا ځنی په دی اند او فکر کی وه چی **ترومپ** له نوموړی هیوادونو څخه دامریکی دځواکونو راایستل دراتلونکي اولسمشری د ټولټاکنو په دلیل دی چي هغه دځان اودخپل ګوند دبریالیتوب دپاره دخلکو رای تر لاسه کړي اما دا موضوع دافغانستان په اړه بیل او متفاوت داستان لری ، دامریکی د ځواکونو د یوی برخي شتون

په سوریه کی داسرایل دګټو په منظور وه چی یو هم دهغی له جملی څخه دایران دنفوذ مها رکول وه اما اوس اسرایل د **ترومپ** له دی پریکړی څخه په غوسه شوی دي .

دامریکی متحده ایالات په دی څو وروستیو میاشتو کی هڅه کړي چی خپل پالیسي د ا فغا نستا ن په اړه بدله کړی نو د همدی دلیل له مخی غواړی چی دخپل (14000) سرتیرو څخه (7000) سرتیری له ا فغا نستا ن څخه وبا سي کوم چی دا یو نا څا پی پریکړه نه دی ، بلکه دغه تصمیم دامریکی د کا رد اجند ا یوه برخه دی چي دافغنستان په اړه دهغه هیواد په دی وروستیو حرکتونو کی تر سترګو کیږي .

د جمهوررریس **دونا لد ترومپ** دغه یو ناڅاپه پریکړي کوم چی غواړی له سوریی او افغانستان څخه امریکایی سرتیری رابا سي په امریکي کي دګڼ شمیر سیاست جوړونکو جنرالانو حتی تر ددندو څخه د استعفا ورکولو پوری غبرګون وښودل شو ، کوم چی دغه پریکړی دیو مقتد ر ګروپ خلکو پواسطه سره د تړلی دروازی تر شا نیول شوی او**دونالد ترومپ** یواځی ددی پریکړی د سرته رسولو یا دهغه د تحقق د پاره خپل د جویرتیا نقش پرځای کوی کوم چی دا پخپله د مشترک احسا س یو مخا لف تګ لاره دی اودا غیر ممکن ښکا ری چي **دونالد ترومپ** پخپل سر دا تصمیم نیولی وی البته چی پښتا ګون مخکی د **جیم میتس** څخه دامریکی دځواکونو له شتون سره په سوریه او ا فغا نستا ن کی دفاع کړی دی .

متحده ایالات دافغا نستا ن په سرتا سرکی (۹) دیرځواکمن اوستر نظامی په اصطلاح سره قا نونی ګرځول شوی اډی لری چي په هغه کی څو زره غیرجنګی اویا غیرمنتظره سرتیری لری یعنی هغه سرتیری چی دجنګ څخه لاس اخیستی دی اویا په تیرو جنګونو کی دعملیا تو په وخت کی ټپیا ن شوی دي .




دا داسی یو وخت دی چي امریکا په افغانستان کي ښکیل نه ښکا ری چی دا به دهغه

دځواکونو په شتون اویا دهغه پر نفوذ باندی تا ثیر وغورځوی – شوریشان دهیواد له نیمیای برخی څخه زیا ت سا حی پخپل تصرف کی را وستلی دی نو دهمدی کبله دافغانستان دسولی په مذاکراتو کي دافغانستان دبرخه لیک په ټاکلو کی یولړ ستونزی تر سترګو کیږی اودبلی خوا څخه دافغانستان د اولسمشری تولټاکنی د اپریل میا شی کا ل (2019) ټاکل شوی چی دا ټول پړاو یا مرحله دا مریکی د غټو طرح کړل شوی پلانونو د پا ره نوی دي .



ځلمی خلیلزاد

له میا شتو څخه راهیسی ا فغا نستا ن ته دا مریکی دمتحده ایالاتو ټاکل شوی استا ذی « ځلمی خلیلزاد» د طا لبا نو اود سیمی دیو شمیر هیوادونو سره دا فغا نستا ن دروا نی کشالی دسولی دلاری دمیند لو د پا ره سره په چڼی وهلواوخبرواترو بخت دي .اما دهری ورځی په تیریدو سره ټول پټ اوخوندی شوی اسرار اویا را زونه یود بل پسی څیرل کیږی اوهغه داچي که چیری امریکایی ځواکونه له ا فغا نستا ن څخه هغه وخت وتلای وای چی دا فغا نستا ن حکومت دهیواد زیا تی برخی پخپل تسلط کی در لودلای وای چي په هغه وخت کی کیدای شو چی د ا فغا نستا ن د راتلونکی برخه لیک د پا ره یوه ستر اویو بریا لی اقدام وه ، اما په اوسنی حا لت کی کوم چی دافغانستان زیاتی برخه او ښا رونه دطا لبا نو تر ولکی لاندی دی او د بلی خوا څخه د طا لبا نو سره په قطر اوپه متحده اما راتو کی پټ مذاکرات هم ترسره کیږی چی داپخپله داسی ښیی چی دافغانستان دپا لیسی په هند ا ره کی غټ اوسترتغیرات رامینځته شوی چي په قوی احتما ل سره دغه هیواد به ترخپل تا ثیر لاندی راولي .

متحده ایالات په افغا نستا ن کي د خپل نظا می شتون ا وحضور لپا ره طا لبا نو ته ضرورت لری چي خپل موجود یت په افغا نستا ن کی توجیهی کړي ، راپورنه داسی په ډاګه کوي چی دامریکی د متحده ایالاتو توافق د سعودی عربستا ن اودمتحده عربی اماراتو سره دی پایلی ته رسید لي چی امریکی باید له ا فغا نستا ن څخه د خپل سرتیری نیما یی برخه اوبا سی اودبلی خوا څخه داسی راپوورونه تر لاسه شوی چی د پا کستا ن پخوانی لوی درستیز جنرال رایل شریف کوم چی اوس هغه د سعودی عربستان د نظامی

مشا ور په توګه په يمن کی دعربستا ن په استا ذ يتوب جنګ رهبری کوی نو هغه له
سعودی عربستا ن اوله عربی اما راتو څخه غوښتنی دی چی دوی با ید خپل نظا می
ځواکونه افغانستان ته ولیږی او هغه داسی توضیح کړی چی د خلیج دهیوادونو نظا می
قوتونه با یدچی د افغا نستا ن په جنوب کي ځای پرځای شي اودامریکی او**دنا تو** دقوتونو
وتلو سره دخلیج دهیوادونو نظامی ځواکونه دهرډول اختلال او اړودوړو څخه مخنیوی
وکړي. اما که چیری په یو اویا په بل ډول سره دغه موضوع چی د خلیج دهیوادونو
نظا می قوتونه په افغا نستا ن کی ځای پرځای شی نو دا به داسی شرایط رامینځته کړی
چی امریکا د مخد ره موادو پر ترافیک با ندی به پوره واک ترلاسه کړی اوپه هغه
صورت که به امریکا په هیڅ ډول سره دافغا نستا ن د سولی د پاره چی د لته رامینځته
شی سر به خوږ نکړی نو په هغه صورت کی د امریکی د پا ره دعوایدو دوه ستر منبع
به ترلاسه شی یودمخدره موادوراکړی اوورکړی اوبل په غیرقانونی بڼی سره دافغانستان
د معا دونو استخراج او لوټول .
وروسته دافغانستان داولسمشری د ټولټاکنو څخه چی داپریل میاشت کا ل (2019) کی
به ترسره شي – نوداسی په پا م کی نیول شوی چي په کا بل کی به دا سی یو حکومت
رامینځته شی چی هغه حکومت ، یوه ، با ثبا ته ، ا طا عت کونکی اودامریکی د ګټو
تا مین کونکي اووسی کوم چی دغه طرح دامریکی دکا رپوها نو داجندا اصلی ټکي دي
دبلی خوا څخه هرکله چي په افغانستان کی د یو اولسمشر د کارموده پای ته رسید لی نو
دهغه اولسمشردځا ی نا ستی اولسمشر سره امریکی ته دهغه دعا م وتام وفاداری په اړه
مشورت ترسره کیږی چی اوس داخبره بلکل ربینتیا دی لکه چی ټولو ته معلوم دی
او هغه داچی موجوده حکومت ددوه رهبرانو تر زعا مت لاندی یعنی اشرف « غنی»
د جمهور ریس او عبد الله «عبدالله» دحکومت داجرایوی ریس په صفت یو جوړ کړل
شوی حکومت دی چی د ا مریکی د پخوانی خارجه وزیر «جان کیری» په هدایت سره
دتړلو دروازو ترشا یوجوړ شوی حکومت دی .
دزمان په دغه روانه پړاو کی دونالد ترومپ دا باورترلاسه کړي چی په افغانستان کی
دامریکی دځواکونو پرته دفزیکی حضورڅخه هم دامریکی ګټی ساتل کیدای شی نو ولی
باید دلته سرتیری د لوړ مالی لګښتون په لګولو سره وساتل شی او هغه هم ولی ترومپ
دسرتیروبد بینی اوتاوتریخوالی خپله کړی ، نوپه دی لحاظ ترومپ اودهغه کلیدی پالیسی
جوړونکي داسی نظرلری چی دا فغا نستا ن پوځ اوس په وسلو سره سمبا ل اود ډاډ وړ
درجی پوری خود کفا یی او قدرت ته رسید لی دی چی خپل وفا داری متحده ایالاتو ته
وښیی ترڅوچی دولت وشی کړلی چي خپل اقتصادی ، اجتماعی اوحتی نظامی ګټی څخه
ساتنه وکړی نودهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره نور دی ته اړتیا نشته چی د امریکی
زیا ت قوتونه په افغا نستا ن کی باقی پا تی شی ، کوم چی د دی ځواکونو په وتلو سره
د ا مریکی په د ننه کی د نیوکی کونکو خلکو خوله هم تړل کیږی کوم چی هغوی

*پرډولت با ندی ګوتې څنډ نه کول چی دافغانستان په داخلی چارو کی لاس وهنه کوی .*

*متحده ایالات په دی انتظا رکی دی چی دافغانستان نوی راتکونی جمهورریس باید هغه کس اووسی چی هغه داوږدی مودی دپا ره به ډ یر جدی توګه سره روسیه یا ایران پخپل بغل کی وسا تي دبلی خوا څخه دا فغانستا ن جمهور ریس ته په قا نونی بڼی سره داسی اختیارات ورکړ شوی چي هغه دری ګونی قوی یعنی مقننه ، اجراییه او قضا یه قوی په متمرکز بڼی سره پخپل لاس کی لری او هغه هره پریکړی چی کوی ، کولای شی بی له دی چی دکوم بل مقام څخه دخپل پریکړی اجا زه ترلاسه کړی نو دهمدی اختیاراتو په لرلو سره دامریکی د ګټی د تامینولو دپاره داسی یومنا سب کاندید په کار دی چی هغه دخپل هیواد دټولوخلکو برخه لیک د امریکی په وفاداری سره وټا کي .*

*اما دغه امر کوم چی دامریکا یی سرتیری نیمیا یی برخه به له افغا نستا ن څخه را وویستل شی کا فی او بشپړ نه دی اود ا سی په نظر راځی چی امریکا غواړی له ا فغا نستا ن څخه د خپل نیمیا یی سرتیرو دوتلو تش ځا ی د عرب (احتمالاً پاکستان) قوتونو سره ډ ک کړی اوهغه داچی اوس د سولی خبری په پرمختګ کی دی نو اوس یی وخت دی چی ځنی کسا ن باید پیدا شی چی په افغانستان کي ددی نیما یی امریکایی سرتیرو دوتلو ځای ډکه کړي .*

*د کندهار دپولیسو مشر **تا د ین خا ن** (Taaden Khan) دکندهار دپخوانی دپولیسو د ډیرځواکمن قوماندان عبدالرزاق کشر ورور په یوخبری نا سته کی ویلی چی پاکستان د طا لبا نو په جامه اوما سک کی خپل استاذی د سولی خبرو دپا ره متحده عربی امارات یعنی دوبی ته لیږلی دی تر څو چی وشی کړی چی دا فغا نستا ن دلیږد په دی عمده پړاو کی دخپل ځان په ګټه زیا ت امتیا زات تر لاسه کړي .*

*دامریکی د متحده ایالاتو ځا نګړی استا ذی (ځلمی خلیلزاد) په دي څو تیرومیاشتو کی افغانستان ، پاکستان او روسیی ته ډیر چټک سفرونه ترسره کړ اما هغه په دی سفرونو کی بی داطلاع رسا نی څخه بل شی د ښکلیلو هیوادونو د همکاری څخه په ا فغا نستا ن کی دامریکی د پا لیسی په تغیر کی دا سی کوم رغنده لاسته راوړنی نه درلود .*

*یو بل پرمختګ چي په افغانستان کی دستر سیاست بدلون کی واقیعت ته اشاره کوی هغه دادی چی پاکستان په کال (2018) ددیورند دکرښی په امتداد داغزن تا ر ددیوال په جوړولو باندی پیل کړی چی دغه پروژه به (2019) کال کی بشپړ شی الته چی مخکی ددی اغزن دیوال دجوړولو څخه په پاکستان کی روزل شوی طا لبا نو د قبا یلو له سیمو څخه هغه غا ړی یعنی ا فغا نستا ن ته بی له کوم خنډه تګ اوراګ کول.*

*اوس داشرف غنی تر حکومت لاندی ،کله چی طالبا نو اونور ګڼ شمیر وسله والو ډلو ټپلو په افغانستان کی دننه ځانته تم ځایونه او لنګرګاه د افغا نی په مارک اوسمبول سره جوړ کړی دی اود افغانستان دحکومت او دامریکی د متحده ایالات په حضور کی خپل شتون ته تقریباً قانونی بڼه ورکړی اود کوم شدید مقاومت سره هم مخامخ نه دی نو په*

دی بنیاد پاکستان نور دی ته ضرورت نه لری چي خیل خا وره دافراطیا نو دروزلو صادرولو اود پټن ځا یونو په بنه پکا رواچوی – نو دهمدی د لیل پر اسا س هغوی په افغانستان کی دامریکی د ستراتیژیکو په احتما لی مخو یا اهدافو باندی پوهاوی لری .

دکندهار د پولیسو ځواکمن مشر عبدالرزاق کوم چی دامریکی دمتحده ایالاتو په افغانستان کی د عمومی قوما ندا ن جنرا ل (میلر) سره په یو مطبوعا تی کنفرانس کی ګډ ون کړی وه اوبیا هغه د دی کنفرانس څخه وروسته په همغه ځای کي دیو ځان وژنی په هجوم او برغل سره له مینځه لاړ ، هغه دا سی یو کس وه چی پر دیورند کرښه با ندی دپا کستا ن داغزن د یوار دجوړولو څخه مما نعت کول اویا داچی دهغه په وخت کی پا کستا ن ونشوکړلی چی په هغه سیمو کی خپل اغزن دیوار جوړ کړی نو دهمدی د لیل له مخی سیا سیی کارپوها نو وایی چی د عبدالرزاق د قتل یواځنی موجب د هغه مخا لفت دهمدی اغزن دیوال له وجهی څخه وه چی هغه د پا کستا ن داعما لو په واسطه سره له مینځه لاړ .

له بده مرغه په داسی یو کمزور او زیان منونکی شرایطو کی چی هر بهرنی دولت خپل ګټی دا فغا نستا ن له روان جګړی څخه ترلاسه کوی ، مونږ د ا فغا نستا ن په پلازمینه کابل کی د یو بل ځا نوژنکی برغل شاهد یا ستو او هغه داچی برغل کونکو د دوشنبی په ورځ د معلولینو او د شهیدانو دکورنیو د اداری ساختمان ددروازی په خوله کی هغه وخت چي دهغه اداری مامورین له دندی څخه وروسته کورونو ته تلل پر هغو مامورینو باندی یوانتحاری چا ودنه ترسره کړل اوبیا وروسته له هغه، برغل کونکیو ددی سا ختمان په هرپوړ کی پر ما مورینو با ندی ډزی وکړل چی د هغه په ترڅ کی (۵۰) نفر خپل ژوند دلاسه ورکړل اوزیا ت نور خلک ټپیا ن شول .

ددی دردونکی پیښی مسولیت هیڅ یو ډله په غاړه وانخیست اونه هم کومه وسله والو ډلی داباید ومنی اوهغه ځکه چی دا د سیمیزو استخبا را تو داداری یوه جګړه دی چی عمد تأ دا فغا نستا ن دعادی خلکو ژوند د فشا رد یو ابزارپه بنه دا فغا نستا ن د حکومت اود نورو ښکیلو اړخونو په مقا بل کی پکا روړل کیږی.

------------------------------------ په درنا وی (2019-01-04)